# دَ ژړا زمانې لاړې!

خان زمان کاکړ

په داسې وخت کښې چې دَ سر دَ بقاء تحریک په ډېرو حساسو شېبو کښې مخ په وړاندې روان دے، دَ پاکستان دَ جماعتي مېډیا او استخباراتي انټلجنسیا ناقص او نارسا کردار دا دے چې دَ پښتنو دَ وطن اوسنیو حالاتو ته په خپل تاریخي سیاق و سباق کښې نهٔ بلکې له معروضي پارلیماني زاویې نه ګوري. په نورو ټکو لکه څنګه چې دوي این آر او دَ اتو زرو کسانو مسئله نهٔ بلکې یوازې دَ صدر زرداري مسئله ثابتولے شي، هم دغسې نقطهٔ نظر دَ روان جنګي صورتحال په حواله دَ پراخ تاریخي پسِ منظر په ځائے دو کلن سیاسي سېټ اپ ته محدود دے. دوي تر اوسه هم په دې کشمکش کښې ګېر او تقسیم پاتې دي، چې دا جنګ زمونږ او کهٔ پردے دے؟ دَ پردي جنګ سرود غږوونکي غواړي چې ریاستي جهادي سېټ اپ بري الذمه وګرځوي او دَ غېر ریاستي عناصرو په نوم ګاونډیو هېوادونو ته کنځلې ډالی کړي. دوي دَ ځینو ورو مسائلو په مورد کښې دَ پښتونخوا حالات ثانوي ثابتوي. دَ عدلیې دَ بحالی دَ تحریک نه دَ عدلیې تر اوسنیو فېصلو پورې دې هر څهٔ ته دَ مېډیا زبردست کوریج ورپه برخه شو او په پرله پسې توګه تر ننه دَ قانون دَ محافظانو قصیدې وئیل کېږي خو په پښتونخوا کښې چې قومي تحریک دَ سر دَ بقاء په جنګ کښې سرونه قربانوي، هیڅ نهٔ وئیل کېږي، دَ پاکستان په مېډیا او سیاست کښې چا دَ دې قربانیو اعتراف وکړو؟

یوه بله تش په نوم روشن خیاله ډله په دې کشمکش کښې ده چې دَ امریکې او کهٔ دَ طالبانو مخالفت وکړي. دَ سوویت یونین دَ انهدام دَ المیې نه پس هغوي دَ حالاتو دَ نزاکت دَ ادراک کوشش ونهٔ کړو بلکې دَ تجزیې او جائزې لپاره ئې زوړ چوکاټ په کار راوستو. دَ پاکستان مېډیا دَ جهادي طبعیت حامله ده او په اوسني جنګي حالت کښې دَ څرګند جانبدار کردار له مخې ترهګرو ته دَ اخلاقي جواز ورکولو هر ممکن کوشش کوي. خو دَ دوي لپاره تکلیف ده صورتحال دا دے چې عوام تر مېډیا زیات باشعوره دي. عوام لښکرونه جوړوي او دَ خپل تحریک هر ډول مرسته یقیني کوي. دَ سازشي مېډیا او استخباراتي سیاست دَ تمامو کوششونو باوجود تحریک او قام یو له بل سره ګنډلي پاتې شو. دَ تحریک سیاسي بصیرت دا دے، چې تر بهرني نقطهٔ نظر او فشار ئې په څو چنده زیات ارزښت دَ خپل عام اولس رایې او غوښتنې ته ورکړو او ټولې فېصلې ئې دَ عوامي نفسیاتو په رڼا کښې وکړې. په انتهائي پېچېده حالاتو کښې دَ سیاسي دُور اندېشی په زور اخر کار ممکن شو چې عالمي او هم عوامي تاثر دَ پښتون قام او پښتون قامي تحریک په حواله په یو زیات مثبت شکل کښې ښکاره شو.

په اوسنيو حالاتو کښې جنګي عناصر څۀ غواړي؟ صاحب عقل څوک په اسانه ځواب وئيلے شي، ګډوډي........!! ګډوډي څنګه او دَ چا لپاره؟ جغرافيائي، معاشي، ذهني او نفسياتي ګډوډي، په هر ډول تنظيم او توازن کښې ګډوډي او په هره شعبه او اداره او په هر معيار او مدار کښې ګډوډي!! دا ګډوډي دَ اقتصادي حرص مندو، وسله تاجرانو، قامي مفسدينو او جمود غوښتونکو او رجعت غوښتونکو په ګټه تماميږي. ترهګر جنګ دَ ټولنې دَ واپسۍ او پسماندګۍ لپاره کوي. په دې کښې دَ هيڅ اعلی او ارفع قدرونو ترويج او ترقي نۀ شي کېدې. په دې کښې هر وخت سالم او ساهو ارزښتونه مسخ کېږي. اوسنے صورتحال په هيڅ حواله هم دَ شريف المزاج انسانيت لپاره دَ زغملو وړ نۀ دے. ځکه چې په دې صورتحال کښې دَ انسانيت دَ بربادۍ په لور سفر روان دے. جنګي عناصر هغه کلتوري قدرونه په ترجيحي بنيادونو تخريبوي، کوم چې په نړۍ کښې دَ پښتنو دَ مترقي شناخت ضامن ګرځي. دَ پښتنو دَ مترقي شناخت تنسيخ دَ پښتنو دَ ورکولو په لور وړومبے قدم دے. په ننني دنيا کښې چې کوم قام له جديدو جمهوري او مترقي تصوراتو نه بېګانه وي، هغه په ګرانه خپله بقاء خوندي ساتلې شي. دَ روانو حالاتو په تناظر کښې دَ پښتنو وطن په مادي او معنوي دواړو حوالو له يو لوے زيان سره مخامخ دے. مادي ژوند مو په بارودي ماحول کښې مفلوج دے، چې ژور اثرات ئې زمونږ په ذهني او نفسياتي نړۍ هم څرګند دي. په دې حالاتو کښې يوه واضحه تګلاره لرل کۀ هر څو مشکل وي خو ډېر ضروري وي. دَ قامي رويې لرونکې پښتانۀ وګړي په تکرار دا خبره کوي چې دا دَ پښتنو دَ ژوند او مرګ پړاؤ دے. دا يوه نشاندهي ده خو دَ ژوند او مرګ په دې پړاؤ دَ لارې موندلو او لاربنودنې کولو ضرورت دے. په اوسني عصر کښې لار او لاربنود بايد له مصلحتونو پاک پسِ منظر ولري. دا دَ فېصلې وخت دے، دَ صفا صفا خبرې وخت دے. په سياست کښې دَ هدف او په جنګ کښې دَ دښمن تعين پکار وي، په دې لړ کښې ابهام مطلق ناکامي وي. قام څرګند stance غواړي او څرګنده تګلاره غواړي.

په نړېوال سياست کښې دا وخت دَ پښتنو دَ وطن دَ مرکزي خيال حثيت دے او دَ نړېوالې ټولنې ټوله توجه پردې سيمه مرکوز ده. مونږ په تکرار دا خبره کړې ده، چې حالات دې ته جوړ دي چې دَ پښتنو قومي سوال له بين الاقوامي سوال سره وتړل شي. نن عالمي رايه دَ پښتنو په حق کښې ده او سيمئيز استبدادي مېکانيزم له هر ډول اخلاقي مرستې نه بې برخې دے.

په نړېوال سياست کښې دا وخت دَ پښتنو دَ وطن دَ مرکزي خيال حثيت دے او دَ نړېوالې ټولنې ټوله توجه په دې سيمه مرکوز ده. مونږ په تکرار دا خبره کړې ده، چې حالات دې ته جوړ دي چې دَ پښتنو قومي سوال له بين الاقوامي سوال سره وتړل شي. نن عالمي رايه دَ پښتنو په حق کښې ده او سيمئيز استبدادي مېکانيزم له هر ډول اخلاقي مرستې نه بې برخې دے. په جنګ کښې دښمن تنها کول او دَ اخلاقي و مالي سپورټ نه بې برخې کول

پکار وي. دَ لروبر افغان په سیاسي تناظر کښې چې نن نړېواله ټولنه خپله تګلاره ټاکي نو په ضمن کښې ئې باید پښتون بحېثیت مجموعي خپله قامي تګلاره ولري. په نړېواله سټرېټیجي کښې دا بدلون رامنځته شوے دے چې افغانستان دَ ایشیاء نه بلکې دَ دنیا زړهٔ دے او دَ پښتنو دښمن دَ ټولې دنیا دښمن دے. په دې حواله پښتنو ته دَ قومي سوال دَ راوچتولو زمینه نن تر هر وخت زیاته مساعده ده، موقع شناس ذهنونه ئې په اهمیت پوهېږي.

دَ پاکستان په صحافت کښې چې دَ قومي دائرې او حب الوطنۍ کومې بابولالې وئیل کېږي، دا تش قومونو ته دَ نوکرۍ او چاکرۍ تلقین دے. دَ قومونو په فطري تشخص او حقونو پورې اوس هم ملنډې روانې دي. دَ پښتونخوا دَ نوم په مسئله دَ انتهائي درجې کم ظرفي ولیدل شوه. یو څوک چې مو دَ تشخص په مخالفت کښې تر دومره سخت دریځۍ او بې شرمۍ رسېدے شي، نور به راته کوم پټکے په سر کړي؟ دَ پښتنو حېثیت په دې قومي دائره او حب الوطنۍ کښې بحال نهٔ دے. پښتانهٔ به خپل قومي تشخص او ژوند ژواک بحالوي، دَ خپل قومي تحریک په زور به ئې بحالوي. مزاحمت اخري آپشن دے، په اخري تجزیه کښې به دَ یو مرکز په ارزښت خبر ذهنونه خپلې مقاومتي مبارزې ته ښېرته مخ اړوي. دَ جنګي حالاتو په سبب مو نن دَ ژوند هره څانګه مفلوج ده، دَ یوې منظمې سټرېټیجۍ له مخې مو تاریخي قامي بنیادونه په نخښه شول، دَ سر سړي او دَ دستار سړي، قامي او سیمئیز مشران، فنکاران او جرنلستان مو بې دریغه په نخښه کېږي. هر تاوان مو تش تر خپله قامه محدود دے. له پنجاب نه کوم احتجاج ریکارډ شو؟ دَ قامي دائرې او حب الوطنۍ دا ادا دَ کمال ده او په مونږ کښې کهٔ اوس هم څوک دې ته وفادار وي نو هغه به دَ دوي تنخواه دار وي. اوس هم جنګ واضحه دے او هم دښمن، له اوږدو تجربو نه پس هیڅ هم مبهم پاتې نهٔ دي، اوس هم کهٔ څوک دې ته دَ ابهام په نظر ګوري، نو هغه به دَ پردیو سترګو خاوند وي. مونږ دَ دېرش کلنۍ جنګي تجربې نه پس ولې دَ خپل شهید په قاتل پسې "اسم نامعلوم" مقدمه درج کړو. زندګۍ په دې بې وسه احساس نهٔ کېږي، دَ ژړا زمانې لاړې، مبارزه ټینګ کمټمنټ غواړي .

دَ تاریخ په دې احساس پړاؤ هر مسؤل ته دَ خپل مسؤلیت ادراک پکار دے، په جدي بنیادونو باید دَ وطن claim وشي. مونږ دَ ژوند لپاره مبارزه کوو، دَ سر بقاء غواړو. دا دَ منظم نظریاتي جدوجهد تقاضا کوي. نړۍ ته سترګې اړول غواړي او په ضمن کښې به خپله طبقه او خپله طبقاتي مبارزه پېژندل وي. زمونږ دَ قام کړۍ دَ نړۍ دَ اخوت په زنځیر کښې چرې پېوند کېږي؟ سترګور څوک مو باید په دې وپوهوي. ځکه چې په جنګونو کښې مو دَ ژوند دَ سفر زانې دَ نړۍ له سېله وتلې ښکاري. مونږ غلط معرفي کړل شوي یو او زمونږ په حواله ئې په نړۍ کښې زیاتې مغالطې خورولې دي. اوس وخت دے، چې دا غلطۍ او مغالطې وشنل شي او دَ تصویر رښتینے اړخ څرګند کړل شي. دَ دې لپاره به دَ خپل قامي تحریک مرسته یقیني کول وي او دَ تحریک دَ ثابت قدم ساتلو لپاره به جدي او سېدل وي. هم دا دَ ذهني بېدارۍ او عملي مبارزې وخت دے. دا دَ امتحان وخت دے. دَ دې لپاره دَ ژړا ، فریاد او قرارداد نهٔ بلکې دَ مېړانې، جدوجهد او مزاحمت ضرورت دے.

khanzamankakar.kakar@gmail.com